مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۱۱/۰۸

# د هوښیارانو اثر

راځـــئ پیدا کـړو ، د پاکـــــانو اثر
هم د سپیـــــــــخلي ، انســـانانو، اثر

چې زړه فریاد واوري، عبرت په غوړو
داســـی درد منو ، غمـــــخوارانو اثر

چې په خپل اوښکو د پرهارکړي مرهم
خـــوږمن دردمنو طبـــــــیبانو، اثر

چـــی وي جذ به هم، د رفـــــاه ورسره
داسی فنــــــکاره، معمـــارانو،اثر

په ویرانو کـــي شو، دردمـــن په لټون
مګر پیــــدا شـــي ،هوښـــیارانو اثر

په ســراســـــر ددي چـــمن نه وینو
د خـــــوش الحـــانه بلبـــلانو، اثر

د آرزو په بوټي ، وچ شـــــــو ګلان
ځـــکه چـــی نشـــته ، مالیارانو ،اثر

د وفـــــــا بوی په دي چمن کي ،نشته
ځـــکـــه چـــي تللی ، له ګـــلانو اثر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ